# هغه چا روژه نده نیولې (روژه یې صحیح نده) چې ټول عمر پرلپسې روژې نیسي، یقینا چې (په میاشت کې) درې ورځې روژه نیول داسې دي لکه ټوله میاشت روژه نیول

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «ته په دوامداره توګه روژه نیسې او د شپې تهجد کوې؟» ما وویل: هو، هغه وفرمایل: «کله چې ته داسې کوې، نو له امله یې سترګې ستړې او بدن ګمزورى کېږي هغه چا روژه نده نیولې (روژه یې صحیح نده) چې ټول عمر پرلپسې روژې نیسي، یقینا چې (په میاشت کې) درې ورځې روژه نیول داسې دي لکه ټوله میاشت روژه نیول» ما وویل: «زه تر دې هم زیات کولاى شم» هغه وفرمایل: «نو د حضرت داود علیه السلام روژه ونیسه، هغه به یوه ورځ روژه نیوله او یوه ورځ به بوزه کېده، او د جګړې پر مهال به یې له میدان څخه تېښته نه کوله».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

پیغمبر صلى الله علیه وسلم ته خبر ورسېد چې عبدالله بن عمرو رضى الله عنهما ټول کال پرلهپسې روژې نیسي او نه یې ماتوي، او ټوله شپه لمونځ کوي او نه ویده کېږي؛ نو له دې کاره یې منع کړ او ورته یې وویل: "روژه نیسه او بوزه کېږه هم، تهجد کوه او ویده کېږه هم". او له پرلهپسې روژو نیولو او ټولې شپې لمونځ کولو یې منع کړ، او ورته یې وفرمایل: بېشکه که ته دا کار وکړې، نو سترګې به دې کمزورې شي، ژورې به شي او دننه به لاړې شي، نفس به دې ستړى، تن به دې ستومانه او کمزورى شي؛ نو هغه چا روژه نده نیولې چې ټول کال روژه کېږي؛ ځکه چې د نهې د مخالفت له وجې د روژې ثواب یې نه دی ترلاسه کړی، او نه بوزه شوى دى، ځکه چې تل به یې روژې نیولې. بیا یې ورته لارښوونه وکړه چې له هرې میاشتې څخه درې ورځې روژه ونیسي، نو داسې به وي لکه ټول کال چې روژه شوې وي؛ ځکه (په ثواب کې) هره ورځ د لسو ورځو سره برابره ده، او دا تر ټولو لږ زیاتوالى دى چې له مخې یې نیکي څو چنده کېږي. نو عبد الله وویل: زه لدې زیاته وړتیا ولرم. نو رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل: چې داسې ده نو د داود علیه السلام په څېر روژه ونیسه چې هغه د (نفلي) روژو نیولو لپاره تر ټولو غوره حالت دى، هغه به یوه ورځ روژه نیوله او بله ورځ به بوزه کېده، او د ښمن سره د مخ کېدو پر مهال به یې تېښته نه کوله؛ ځکه روژې نیولو یې بدن نه و کمزورى کړى.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6017

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee